پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۴/۳۰

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۷۳ مه برله پسي برخه

## کابل

## او د افغانستان سویل – ختیځې

ایډیټ:

ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **سبز جوی**: ۱۰ – ۳۴، ۵۵ – ۶۶ ,,ن،،: دا د بامیانو په ولایت کې د وروس په سویل کې ,,وکیلان،، [1] ته نېـږدې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی د بامیانو په ولایت کې د بابا د غرهٔ په شمال کې د «سرِ قول» په شمال لویدیځ کې په ۴۰ – ۳۴، ۶ – ۶۷ ,,ن،، کې موقعیت لري.

**سبز قلعه**: دا د پغمان د غرنی لړی په ختیځ دامان کې د کابل د شمال په ۴۲ مایلی کې یو کلی دی. ,میتلند,

**سبز قول**: قولِ سبز: دا د خروار په ولسوالي کې د اندړي غلزیو د ۱۲۰ کورونو یو کلی دی. ,ګریسباخ,

**سچان**: وګورئ: سبز

* **سده**: [2]: ۱۵ – ۳۴، ۱ – ۷۱ ,,ن،،: دا د ننګرهار په ولایت کې د لالپورې د لویدیځ په نېـږدې ۳ مایلی کې د کابل د سیند په اوږدو کې یو کلی دی.

**سدک** : [3]: ۴۶ – ۳۴، ۲۶ – ۶۹ ,,ن،،: دا د کاپیسا په ولایت کې د ,,شامي،، [4] د ختیځ په نېـږدې یو مایلی کې د کوهٔ صافي په شمال کې یو کلی دی.

[1] -Wakilan
[2] -SADA



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**صدبار**: صد بَر – ژ: [5]: دا یو منځغری دی چي له زهاک ۲/۱ – ۱۱ مایله پورته د کالو منځغري ته ورغورځي. (امیر خان)

* **صد برگ**: [6]: ۱۱ – ۳۵، ۴۶ – ۶۹ (ن): دا د کاپیسا په ولایت کي د پنجشیر د سیند د یوې څانګې د غاړې په اوږدو کي د (کوهٔ فرنګل/ فرنګال) [7] په لویدیځ کي یو کلی دی.

**سدهٔ غلام جان** : [8]: – ۳۴، – ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامې په علاقه داری کي یو کلی دی چي د (ګج) او (ناوه جی؟ / ناوه ګی) [9] تر منځ واقع دی. استوګن وګړي: سیدان او د کونړ د پادشاه کورنی. (جنکینز)

**صد مردا**: صد مرده: [10] : ۴۰ – ۳۵، ۱۴ – ۶۷ (الف): دا د شیخ علي هزاره ګانو یوه څانګه ده چي په (درهٔ جلمیش) [11] کي استوګن دي. دوی په مذهب سنیان دي. (پیکاک) په دې نوم دوه کلي سته چي په ۴۰ – ۳۵، ۱۴ – ۶۷ (الف) کي او بل ئـي په ۲۰ – ۳۴، ۴۱ – ۶۸ (ج) کي موقعیت لري.

**صد مستي**: [12]: ۴۹ – ۳۴، ۵۳ – ۶۷ (ج): دا د بامیانو په درې کي په کلا ګانو کي جوړ دوه کلي دي چي د تاجیکانو ۶۰ کورنی په کي میشتي دي. (اې. بي. سي)

**سدو زي**: وګوری: پینځم توک

**سادو**: [13]: دا یوه قبـیـلـه ده چي د پغمان د غرونو په لمن کي اوسېـږي. دوی افغانان (پښتانـهٔ - ژ) نـهٔ دي ؛ کیدای سي د دوی اصل و نسب له هندوانو څخه وي چي اوس مسلمانان سوي دي. دوی په خپلو خویونو او د ژوند ژواک په بڼه کي (جټانو) [14] ته ورته دي، دوی په فال کتلو او غلاوو کي ډېـر شهرت لري. (بـېـلو)

**سعدالله**: ۴ – ۳۵، ۱۴ – ۶۹ (الف) دا تـتم درې ته نـږدې یو کلی دی چي د تاجیکانو ۵۰ کورونه په کي ودان دي. (شهزاده تیموس)

* **سدوار**: [15]: ۵۹ – ۳۴، ۵۳ – ۶۸ (ن) دا د پروان په ولایت کي د سیاه ګرد د ختیځ په نـږدې ۲ مایلی کي د غوربند د سیند په اوږدو کي یو کلی دی.

**صاف**: دا په هزاره جاتو کي یوه دره ده.

---

3 -SADAK
4 -Shami
5 -SADBAR
6 -SADBARG
7 -Koh -i- Ferengal
8 -SADDA-I-GHULAM JAN
9 -Gaj and Nawaji
10 -SADMARDA
11 -Dara Jalmish
12 -SAD MASTI
13- SADU : ددې نوم د انګلیسي بڼي مخي ته ئـي په عربي الفباء (سدو) لیکلي دي چي صحیح نـهٔ ده. سادو ئـي صحیح بڼه ده - ژ
14 -gipsies
15 -SADWAR



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**سفرک کلا** : [16]: ۳۰ – ۳۴، ۳۳ – ۶۶ «ج»: لوړوالی: ۹۶۵۰ فیټه. دا د کابل – دولت یار د سړک په اوږدو کي پینځلسم منزل دی چي له دولت یار څخه ۴۴مایله لیرې موقعیت لري. دلته اوس په همدې نوم یوه کلا سته.

**سفرک تګاو**: وګورئ: سرخ

**صفدر علي خان**: ـ۳۴، ـــ ۶۹: دا د کابل د ولسوالي د ریشخورو د ښارګوټي په کلاګانو کي یوه ده چي د «ګدي هزاره ګانو» [17] ۱۵ کورونه لري. امیر عبدالرحمن خان دا ځای د هغهٔ له اصلي مالک «صفدر علي خان څخه ، چي د امیر شیرعلیخان د سلطنت پر مهال د کندهار والي وو» ضبط کړ. «آی. بي. سي»

* **سفیدک**: ۲۱ – ۳۴، ۴۴ – ۶۶ «ن»: دا د بامیانو د ولایت د اسغرات په سویل ختیځ او د سرخ قولي په شمال کي یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی «دا مُرده» [18] ته نېــږدې د هلمند د یوې څانګي د غاړې په اوږدو کي په ۹ – ۳۴، ۲۲ – ۶۷ «ن» کي موقعیت لري.

**سفید بیني**: ـ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد په ولسوالي کي یو کلی دی چي د کابل د سیند په کینه غاړه کي له ګردآب څخه تقریباً ۱ مایل پورته موقعیت لري. استوګن وګړي: مهمند. «جنکینز»

* **سفید دیوار**: ۸ – ۳۴، ۱۴ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کي د «میران» په سویل لویدیځ کي «قول ِ زنګي» ته نېــږدې یو کلی دی.

**سفید جیر**: [19]: ـ ۳۵، ـ ۶۹: دا د پنجشیر په پورتــنی دره کي له «مرز» څخه ۸ مایله پورته یو کلی دی. دې کلي کي د تاجیکانو ۱۵۰ کورنی دي. هغه قافلي چي له کابل څخه د خاواک د کوتل له لارې ځي ویل سوي چي دلته دمه کوي چي د «دشتِ ریوات» په پرتلي ئـي غوره بولي، دشتِ ریوات ۳ مایله وړاندې ده. ویل سوي چي له سفید جیر څخه یوه لاره د «زُریه کوتل» [20] له لارې په «زُریه درې» منتهي کـېــږي او د اندراب په دره کي «قلعـهٔ آهنګران» ته تللې ده. دا لاره د اوښانو د تګ لپاره عملي نـهٔ ده. «آی. بي. سي»

**سفید قلعه**: ـ۳۴، ـ ۶۹: دا د کابل په کوهدامن کي په «شکار درې» [21] کي یو کوچنی کلی دی.

**سفید قلعه**: ۲۶ – ۳۴، ۲۸ – ۶۸ : دا د کابل – هرات د عمومي سړک په اوږدو کي د اونی د کوتل د ختیځ په ۵ مایلی کي په دیوالونو کي محصور یو کلی دی. «په ۱۹۰۴ز کال کي» کي دې کلي کي د تیموریانو تقریباً ۳۰ کورنی وې چي ۵۰ غواګاني او ۸۰ پسونه او وزې درلودلې. د دې کلي د غنمو او وربشو کلنی تولید ۴۷۰ هندي مونده وو. په سفید قلعه کي د کابل د سیند په پورتــني سر کي چېد «اونی یا سرِ چشمه» په نوم یادېــږي لاره د یوهٔ کچه یا خام ډبرین پلـهٔ په

---

[16] -SAFARAK KALA
[17] -Gadi Hazaras
[18] -Damurda
[19] -Safed Jir
[20] -Zuria kotal
[21] -Shakar Dara valley


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

وسيلي تــېــرېــږي چې ۱۰ فيټه پلن والی او ۱۰ فيټه اوږد والی لري ، په خپله سيند د ﴿جولای﴾ په مياشت کې ۶ فيټه ارت او ۶ انچه ژور وو. ﴿ونليس﴾

* **سفيد کچ**: ۱۱ ــ ۳۴، ۱۷ ــ ۶۷ ﴿ن﴾: دا د باميانو په ولايت کې د هلمند د سيند په اوږدو کې ﴿خوش قول﴾ ته نيــږدې يو کلی دی.

**سفيد خاک**: ۲۷ ــ ۳۴، ۵۱ ــ ۶۸ ﴿ج﴾: لوړوالی: ۸۳۳۰ فيټه. دا يو کوتل دی چې د پغمان د غرونو په يوۀ مهميز کې  د ميدان د کلي ترمنځ واقع دی. له دې کوتل څخه د کابل ــ هرات عمومي سړک له کابل څخه ۲۰ کيلومتره ليرې تــېــرېــږي. په کوتل باندې له لويديځ لوري ختل په يوې نسبتاً ډېريني لارې باندې کــېــږي چې نسبتاً ستوغه لاره ده: او کوزيدل ئــې هم همدا ځانګړتيا لري. له دې کوتل څخه توپچي ځواک تــېــريدلای سي خو په سختی. د برتانوي نيواک مخالفو افغانانو ﴿پښتنو ــ ژ﴾ چې په ۱۸۸۰ز کال کې ئــې ﴿کوتلِ تخت﴾ نيولی وو دا کوتل ئــې په متداوم ډول ساتلی وو او په دې توګه هغه تدارکات چې شيرپور يا کابل ته له لويديځ او سويل لويديځ لوري رارسيدل په همدې لارې کې بند ساتل کيدل. ﴿آی. بي. سي﴾

**سپين غر**: يا: **سفيد کوه**: [22]: ۵۸ ــ ۳۳، ۲۵ ــ ۷۰ ﴿الف﴾ دا دغرونو يوه لوړه لړی ده چې د سليمان د غرني سيستم يوه برخه جوړوي او د کابل د سيند بستر د کورم له سيند څخه جلا کوي.

د اساسي غرنی لړی تر ټولو لوړ ټکی د دې لړی په لويديځې منتهی اليه کې ده چې د ﴿سيکا رام﴾ ﴿اوسنی سيد کرم ــ ژ﴾ د غرنی څوکې په نوم يادېــږي. دا لوړه څوکه د پيوار د کوتل د شمال په ۵ مايلی کې ده او لوړوالی ئــې ۱۵۶۲۰ فيټه دی. له همدې ټکي څخه دغرني لړی اساسي تــنه/ بدنه د تقريباً ۶۰ مايلو په واټن په ﴿تــيــرا﴾ کې د ﴿بازار د درې﴾ تر سر پورې تقريباً مخ په ختيځ غځيدلي ده؛ دا لړی همدلته په دوه وو څانګو ويشل سوې ده، يوه څانګه ئــې چې ﴿د سور غر لړی﴾ [23] په نوم يادېــږي د تــيــرا د ﴿بازار﴾ او د ﴿باړه﴾ د درو تر منځ مخ په سويل ختيځ غځيدلي او بله څانګه ئــې د کابل د سيند د درې پر لور مخ پر شمال ختيځ غځيدلي ده چې د خيبر د کوتل تر ګاونډ پورې رسېــږي.

د غرنی لړی له اساسي تــنې څخه مهميزونه هم مخ پر سويل د کورم د درې پر لور او شمال لور ته د ننګرهار پر خوا راوتلي دي؛ د دې لړی تر ټولو مهمه څانګه له ﴿سيکا رام﴾ څخه مخ په سويل لور د ﴿شتر ګردن﴾ [24] د کوتل پر لور غځيدلي چې دا لړی د ﴿مچلغو﴾ [25] له غرونو سره نښلوي، د مچلغو غرونه د ﴿سنګلاخ﴾ [26] د غرنی لړی او په دې توګه د هندوکش د لړی دوام دی. له جغرافيوي اړخه دا تر يو زښت ډېــر مهم ټکی دی ځکه دا ټکی د ستر اوب يللوونکي يا آب ريز وروستی متصل کوونکی ټکی دی چې هندوکش، سنګلاخ او د سليمان د غرنی لړی لويديځ جوړ کړی دی چې ايراني فلات د هندوستان د سيند له سيستم څخه جلا کوي.

د سپين غرۀ د نورو غرنيو څانګو په منځ کې يوازينی نورې مهمې څانګې چې دلته د پاملرنې وړ دي هغه څانګې دي چې د کابل د سيند د شمال پر لور پر مخ تللي دي، د سرخاب، جګدلک، تيزين او لوګر درې له يو بله جلا کوي. دا

---

[22] -SAFED KOH Or SPIN GHAR
[23] -Surghar range
[24] -Shutur Gardan pass
[25] -Machalgu hills
[26] -Sanglakh range


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولــئ

مهميزونه ‹چي په مجموع کې ئــي د تور غرهٔ او کرلاچه د غرونو په نوم يادولی سو› د کابل ــ پـېــښور د عمومي سړک په ښي لاس کې په دواړو لوريو کې د پرمختګ متوالي موقعيتونه جوړوي.

د سپين غرهٔ په غرنی لړی کې کوتلونه ټول لوړ او سخت دي؛ په دغو ټولو کوتلونو کې يوازينی کوتل چي له پوځي اړخه مهم کوتل دی د ‹آګام› [27] کوتل دی. سره له دي چي د دې ټکي لوړوالی ۱۱۷۶۶ فيټه دی او هر کال د ځو مياشتو لپاره بند کـېـږي خو په اساسي غرنی لړی کې دا کوتل تر نورو ډېــر ټيټ دی. د سپين غرهٔ د غرنی لړی تر ټولو ټيټ مهميز لوڅ او زښت ډېــر ډبرين دی خو لوړ مهميزونه او په خپله د غرنی لړی اساسي تـنه چي لوړوالی ئــي تر تقريباً ۱۲۰۰۰ فيټو پوري رسېـږي د سرو د ونو، د سپيدار او چارتراش د لرګيو په نورو په ګڼو ونو ډکه او پوښلي ده، او هغه درې چي د بـېـلابــېـلو مهميزونو تر منځ راغلي دي د قاعدې له مخې ډېــرې حاصلخيزه دي او د ميوو په ښونو او نورو ډکي دي. ‹آی. بي. سي›

**سفيد پوش**: وګوری: کافرستان

**سفيد سنـګ**: لوړوالی ۴۵۰۰ فيټه. دا د خوګيانيو په سيمي د ‹مرکي خيلو› د سيند په ښی غاړه کې او د ګندمک د ختيځ په تقريباً ۲/۱ ــ ۲ مايلی کې يو ځای دی. د افغان دوهمي جګړې په لړ کې برتانويانو دلته يوه استحکامي پوسته او کمپ درلود. دې زړې پوستي کې اوس ځوک نــهٔ اوسېـږي او په کنډوالو اوښتي ده، خو ‹په ۱۹۰۴ز کال کې› د دې پوستي د ديوالونو پاتي شوني د يوهٔ استحکامي کمپ لپاره نسبتاً ښــهٔ دفاعي ديوالونه کيدای سي. د مرکي خيلو د سيند له سره يوه زوړ پُـل تـيــر سوی وو چي د دوست محــمد خان پر مهال جوړ سوی وو. دلته د کمپ وهلو لپاره زښته ډېــره ځمکه سته چي پريمانه اوبــهٔ لري چي د سيند اوبــهٔ دي او هم زړې پوستي ته نېــږدې د اوبو له يوې چيني ځخه دي چي له سيند پورته واقع ده. اړتيا توکي يوازې په ټاکلو وختونو کې موندل کيدای سي. د دې ځای هوا په دوبي کې سړه او په ژمي کې ډېــره سړه ده. دا موقعيت د فتح آباد له لوري پرته نور پر ټولو خواوو مسلط دی. ‹ان. اي›

په سفيد سنـګ کې يو سړک او د پيوار او د لکړی له کوتلونو ځخه سړکونه له جلال آباد ځخه له راغلي سړک سره يو ځای کـېـږي. ‹ميلسن، ونليس، آی. بي. سي›

**سفيد سنـګ**: ــ ۳۴، ــ ۶۹: دا د لوګر د سيند په کيڼي غاړې په اوړدو کې او د ‹تـنګي واغجان› په شمال کې د لوګر په درې کې يو کلی دی. استوګن وګړي ئــي تاجيکان دي چي په ۱۸۸۰ز کال کې ئــي د کورنيو شمــېــر ۱۰۰ کورنی وې. سفيد سنـګ د کابل د ښار د سويل په ۱۹ مايلی کې او د زاهد آباد د شمال په ۲ مايلی کې واقع دی. ‹کليفرډ، ايوان سميټ›

**سفيد سنـګ**: وګوری: ايسفي سنګ

**صافي:** [28]: دا د وګړو يو نژاد دی چي د مهمند د سيمي په شمال کې په غرونو کې استوګن دي. دغو وګړو د ‹پرکوټ› او ‹دامنج› [29] درې نيولي دي چي له ‹درهٔ نور› سره متصلي دي او هم په هغو درو کې اوسېـږي چي تر چغه سرای

[27]-Agam pass
[28] -SAFI
[29] -Bark of and Daminj


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

پورې د کونړ د سیند په ښی غاړه کې د کونړ په درې کې خلاصېږي. د دوی یو شمېر د کونړ د سیند د «فاجوړ»[30] په خوا کې موندل کېږي. همدا شان دوی په لغمان کې د الیشنګ او الینګار په دواړو درو کې او یوه غټه شمېره ئې په تګاو او نورو هغو درو کې اوسېږي چې د کابل د سیند د کینې غاړې په اوږدو کې دي.

میسن وايي چې دوی صادق او میرني خلک دي چې د سترګو او ویښتانو رنګونه ئې روښانه دي. دوی ډېر عجیب دودونه لري او د لرغونو هنرونو زښت ډېر آثار په دوی کې لیدل کېږي؛ د بېلګې په توګه د شهدو مچۍ ساتي چې د مچیو ساتل د دښتو استوګنو وګړو ته څرګند نـهٔ وو. د دوی دره د دوی د ګاونډیو په منځ کې ځکه ډېره شهرت لري چې د نرګس د بومي خاورې په توګه پېژندل کېږي. د استوګنو وګړو په غرونو کې د انګورو تاکونه وده کوي چې شراب او سرکه ورڅخه جوړوي.

له جلال آباد سره متصل صافیان سره له دې چې په پښتو ژبې پوهېږي، په خپلو منځو کې په یوې عجیبې ژبې خبرې کوي چې کولای سو کوهستاني «ګوشتاني – ژ» ژبه ئې وبولو. د دې ژبې سرچینه سانسکریت ده او د سیاه پوش کافرو ژبې ته ورته والی لري. څوک به په دې کې ډېر لږ شک ولري چې صافیان په اصل کې د کافرانو له نسل څخه دي او یوازې د تېرو څلورو پیړیو په لړ کې مسلمانان سوي دي. په خپله د «صافي»نوم دغه د منلو وړ واقعیت تداعي کوي چې د «صاف» یعني پاک او خالص له لغت څخه اشتقاق سوی دی. دا قبیـله د جنګیز په وینا په دوه وو څانګو ویشل سوې ده:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ګربز | Gurbuz | ٢ | ودير | Wader |

ګربز په دغو څانګو ویشتل سوي دي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | بادين زي | Badinzai | ٣ | ښادي خيل | Khadi khel |
| ٢ | ګاګي زي | Gagizai | ۴ | سليمان زي | Sulaimanzai |

ودیر په دغو څانګو ویشل سوي دي:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | کندهاري (د امروی په ګډون) | | Kandahari (Including Amroi) | ٣ | باري زي | بري زي | Barizai |
| ٢ | موسا ود | موسَوَد | Musawad | ۴ | سين زي | څين زي | Sinzai |

ښاغلی مرک د صافیانو په هکله لاندني معلومات ورکوي:

<table>
<tr><td rowspan="3">١</td><td>کندهاریان د سه پا، کمال خیلو، میرزا خیلو او امروی په څانګو ویشل سوي دي.</td><td>sipah, Kamal Khel, Mirza Khel, and Amroi.</td></tr>
<tr><td colspan="2">د کندهاریانو کلي دا دي: ویدان شا، کارل، کندو کوهی،امروی چناري چي ټول ئې په ګډه د سر کمر په نوم یادېږي.</td></tr>
<tr><td colspan="2">Waidansha, Karel, Chingai, Kundo Kuhai, Amroi Chinarai. These are known collectively as Sarkamar.</td></tr>
<tr><td>٢</td><td colspan="2">ګربز په دغو ځایونو کې اوسېږي: تره کي تنګی، لکړی، کمر کلا، کتا سر(دا د ګند آو کته سر نـهٔ دی)</td></tr>
</table>

30 -Fajaur


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | Taraki Tangi, Lakarai, Kamar Kala, Katasar (not the Gandao Katasar). | | | | |
| | د گربزو فرعي څانگې دا دي: | | | | |
| | ١ | بادين زي | ٣ | شهزاده کور | Shahzada Kor |
| | ٢ | سلطان زي | ۴ | کتا سر | Katasar |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٣ | موسى ود يا موسَود په دغو څانگو ويشل سوي دي: | | | | | | |
| | ١ | شمشو کور | Shamsho Kor | ٣ | مدور کور | Madur Kor | |
| | ٢ | اباخيل | | ۴ | غلزي کور | Ghilzai Kor | |
| | دوى په دغو ځايونو کې ميشت دى: | | | | | | |
| | چناري، زيارت، خزينه کوک پان | | | Chinarai, Ziarat, Khazina, Kokpan | | | |
| ۴ | د ودير څانگه د کونړ د سيند په سويل کې له ميتي Mitai ور هاخوا د غرنى لړئ په شمالي ډډو کې اوسېـږي. | | | | | | |

د ١٨٨٠ز کال د جنورئ په مياشت کې کندهاري صافيانو ډکې ته نېـږدې زمونږ پر اتصالاتو باندې د ملا خليل په بريد کې گډون درلود. مرک وايي د دوى د جنگياليو شمېـر ١۵٠٠ تنه دى او توله قبـيـله کولاى سي له ٣٠٠٠ تنو لږ جنگيالي چمتو کاندي. (جنکينز، مرک، ميسن)

**سفره**: يا: جفره: [31]: ١۵ – ٣۵، ١٢ – ۶٩ «ج»: دا له پروان څخه ٣/١ – ١٣ مايله پورته د سالنگ په دره کې د ۴٠ کورونو يو کلى دى. (آى. بي. سي)

**سگداو**: [32]: – ٣۴، ۶٧ : دا د يخ ولنگ د ولسوالي د «سرِ قول» په علاقه دارئ کې يو کلى دى. دې کلي کې د «ينغور هزاره گانو» [33] ١۵ کورونه دي. (آى. بي. سي)

* **سغنه:** سغانه: [34]: ۴۴ – ٣٣، ۶ – ۶٨ «ن»: دا د غزني په ولايت کې د درهٔ يوسف د يوې څانگې په اوږدو کې، «ميني» [35] ته نېـږدې يو کلى دى.

**سگ پاه**: [36]: دا هزاره گانو يوه قبـيـله ده.

**سگ پَـر**: [37]: –٣۴، –۶٨: دا يوه لويه دره ده چې له «بيني سهوک» [38] ٢/١ – ٩ مايله پورته د غوربند له درې سره يوځاى کـېـږي. د دې درې استوگن وگړي د «شيخ علي هزاره گانو» د «داى مالان طايفې» [39] خلک دي چې ټولټال ۶٠ کورنى دي. له همدې درې څخه يوه لاره د بابا په غرنى لړئ کې د «سگ پر» په نوم د کوتل له لارې «په درهٔ تورکمن کې» [40] تر «گلک» [41] پورې تللې ده. په گلک کې د تورکمنانو ۵٠ کورنى استوگنه لري. دا لاره سخته ده خو هغه

31 -SAFRA Or JAFRA
32 -SAGDAO
33 -Yanghur Hazaras
34 -SAGHANA
35 -Miana
36 -SAGPAH
37 -SAGPAR
38 -Bin-i-Sehwak
39 -Dai Malan taifa of Shaikh Ali Hazaras
40 -Dara Turkoman
41 -Gulak


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

اوښان چي کابل ته ځي دا لاره کاروي. د „سگ پَر„ کوتل [42] ته د رسيدلو بله لاره د „درک „دره„ کوجک„ [43] ده، دا يو منځغرى دى له سگ پر څخه ۲ مايله کوز د غوربند له دري سره يو ځاى کـېـږي. ويل کـېـږي چي دا لاره د کابل د اتصال د عادي لاري په توگه تر ډېـره د اوښانو د قافلو له پلوه کارول کـېـږي. „پيکاک„

**سـَـهاک**: وگورئ: سـُـهاک: [44]: ۳۲ – ۳۳، ۳ – ۶۹ „الف„

* **صاحب** : ۴۷ – ۳۴، ۳ – ۷۰ „ن„: دا د لغمان په ولايت کي د اليشنگ د سيند د يوې څانگي په اوږدو کي يو کلى دى.

**صاحب زاده عربان:** دا د جلال آباد د ولسوالي د سرخاب په علاقه داری کي يو کلى دى. استوگن وگړي تاجيکان. „جنکينز„:

**صاحب زاده وزبين:** دا يوه قبيـله ده چي د لغمان او تگاو تر منځ د وزبين په دري کي ژوند کوي. „ميسن„

**ساهــلاو**: ۴۶ – ۳۴، ۴ – ۷۰ „ج„: دا په لغمان کي يو کلى دى چي دهگانان په کي استوگن دي او له لاندنيو کوچنيو کليو څخه جوړ يو کلى دى:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | قلعهٔ الارام | Kala -i- Alaram | ۶ | کوت کي | Kotki |
| ۲ | قلعهٔ شاه نور | | ۷ | داکيان | Dakian |
| ۳ | قلعهٔ حليم | | ۸ | دهوندى-ی- بارکزی | Dhundi -i- Barakzai |
| ۴ | باندهٔ محمد عظيم، آخوندزاده | | ۹ | شربت خيل | Sharbat Khel |
| ۵ | تـنـگي | | | | |

د لغمان، جلال آباد او کونړ په „خاکه نقشه„ [45] کي چي په ۱۸۱۰ زکال کي کښل سوى ده د اليشنگ د سيند د څانگي د بهيدلو بهير په ټکي ټکي ښودل سوى او ښيي چي له شمال لويديځ لوري د „سال آو دره„ [46] تر نوم لاندي بهېـږي او په „دهٔ غازي„ [47] کي د اليشنگ د کلي د شمال لويديځ په نېـږدې ۸ مايلى کي د اليشنگ سيند ته ورغوځي.
واربرټن د „درهٔ ساهلاب„ [48] موقعيت نـهٔ روښانوي او پر ځاى ئـي په دي نوم يو کلى ښيي او وايي چي کيداى سي په دي نوم کومه دره هم وي چي د سيند په شمال ختيځ کي موقعيت لري. خو نقشه هيڅ هغه کوچني کلي او کلا گاني نـهٔ ښيي چي واربرټن ورڅخه په دي سيمي کي يادونه کوي. „واربرټن„

**ساى:** [49] :دا يوه دره ده چي له سويل لوري د غوربند په دري کي له څلوردي ۱۳ مايله پورته راوځي. له دي ځايه يوه لاره د „ساى د کوتل„ له لاري تر „لولينگ„ او „ترکمن دري„ [50] پوري تللي ده. ويل سوي چي دا ډېـره آسانه لاره ده. „پيکاک„

---

[42] -Sagpar Kotal
[43] -Dark (Dara) Kojak
[44] -SAHAK See SOHAK
[45] -Sketch -map
[46] -Salao dara
[47] -Deh-i-Ghazi
[48] -Dara -i- Sahlab


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

**سایند‌ه**: [51]:دا په لوګر کې په دیوالونو کې محصور یو تېنګ کلی دی چې له غزني څخه نېـږدې ۵۵ مایله او له کابل څخه ۶۳ مایله لیرې د لوګر د سیند په غاړو کې موقعیت لري. (لمسدن)

د ۱۸۸۰ز کال د اشغال پر مهال دا کلی د لوګر د کلیو په منځ کې دا کلی نـهٔ دی پیژندل سوی. (آی.بي. سي)

* **سید بابا**: [52]: ۱۱ – ۳۵، ۳۵ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د سیغانو د لویدیځ په شاوخوا څلور مایلۍ کې په سیغان درې کې یو کلی دی.

* **سیدي خیل**: [53] :۱۵ – ۳۴، ۵۶ – ۶۹ «ن»: دا د ننګرهار په ولایت کې د «اشپان» [54] په سویل ختیځ کې یو کلی دی.

* **سید خیل**: ۲۴ – ۳۴، ۱۳ – ۶۹ «ن»: دا د کابل په ولایت کې د بګرامیو په سویل لویدیځ کې د لوګر د سیند د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

**سیف علي**: دا د «کابل خیلو» [55] په دریو اساسي څانګو کې یوه څانګه ده چې دوه نورې څانګې ئـې د «میمي» او «پای پال» [56] په نومونو یادېـږي. دوی په «بیرمل» [57] او د «هندو – افغان» د سرحد په نورو برخو کې استوګنه لري. "وګورئ: د ان. ډبلیو. اف. ګزیتر" [58]

**سیګان**: یا: شیګو: [59]: دا د جاغوري په سیمې کې یو ځای دی.

* **سیغان:** دا د بامیانو د ولایت یوه علاقه داري ده چې ۱۶۵۲ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې بزګرې پرګنې دي د ۴۸۲۱ او ۵۱۴۲ تنو تر منځ اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له یکاولنګ، له شمال او ختیځ لوریو له کهمرد او له سویل لوري له شیبر او بامیانو سره کربنه لري. سیغان ۲۱ کلي لري چې ۳ کلي ئـې له ۵۰۰ تـنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| غور آب شاهٔ محمد بیگ | | چراغان | | Bayani | بایاني | احسان «خواجه ها» | |
| خارگین بیگال | | Ghorab-i- Kogada | | غورابي کوګدا | | Ghorab Shah -i- Muhammad Beg | |
| گوشکِ آب دره | | Ab Dara -i- Baigal | | آب درهٔ بیگال | | Khargin- Baigal | |
| Deh Nola | دِهٔ نوله | دِهٔ ایمان | | خواجه گنج | | خدا داد خیل | |
| Ghor Wachi, | غورواچي | غور آب | | سید آباد | | سوخته چنار | |
| Koh Gadai | کوه گدای | Qara Khawal | قره خوال | Quruna | قورونه | Qurghan | قرغان |

49 -SAI
50 -Loling and the Turkoman Dara
51 -SAIANDA
52 -SAID BABA
53 -SAIDI KHEL
54 -SAIDI KHEL
55 -Kabul Khels
56 -Maimai and Paipal
57 -Birmal
58 -N.W.F. Gazetteer
59 -SAIGAN Or SHAIGO


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

**ساى جدان**: [60]: دا د چاریکارو په ختیځ کې د تاجیکانو د ۵۰۰ کورونو یو کلی دی. (شهزاده تیموس، له بومي معلوماتو څخه)

**ساى قاضي**: وګورئ: زاک

**سید:** خاص: سعید

**سید:** په افغانستان کې عمدتاً په وردکو کې د سیدانو بېلابېلې قبیلې دي. "سید" د حضرت محمد د زوم، خلیفه علي له اولادې څخه دي.

**سید**: دا د یک ولنګ د ولسوالي یوه علاقه ده. "وګورئ: بامیان "ولسوالي" دا نوم له فیروز بهار څخه ښایسته لیرې واټن کې د بندِ امیر درې ته اطلاق کېږي. (اې. بي. سي)

**سید آباد:** ـ ۳۴، ـ ۶۷: دا یو اوږد منځغری دی چې د بابا له غرهٔ څخه راکوز سوی او له قلعـهٔ سرکاري ۲ مایله کوز د بامیانو په درې کې راڅرګندېږي. "وګورئ: بامیان "ولسوالي" د دې منځغري په سر کې یو کوتل دی چې د "دکان" په نوم یادېږي او په اساسي غرنی لړی باندې منتهي کېږي. (میتلند)

**سید آباد:** ۵۹ – ۳۳، ۴۳ – ۶۸: سید آباد د وردک د ولایت یوه ولسوالي ده چې ۱۰۳۳ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمېر ئې چې بزګرې پرګنې دي د ۲۰۳۵۲ تر ۲۵۳۵۳ تنو تر منځ اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له جغتو او چک ِوردک، له شمال لوري له نرخ، له ختیځ لوري له پل ِ علم، بره کي او چرخ او له سویل لوري له زنه خان او خواجه عمري سره کرښه لري. د سید آباد ولسوالي ۱۴۷ کلي لري چې شپاړلس کلي ئې له ۵۰۰ تنو ډېر استوګن وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Fazel Khel | | فضل خیل: فاضل خیل؟ | | Hakim Khel -i- Onkhi | | حاکم خیل اونخي: حکیم خیل؟ | |
| بادام خیل | | Yami Khel | یامي خیل | موسی خیل | | حسن بیګ | |
| Dag Baghri | ډاګ بغري | هاشم خیل | | Ferang | فِرَنګ | چنار | |
| قلعـهٔ امیر | | بیني سفید | | حسن خیل | | Duab Tangi | دو آب تنګی |
| امان خیل ِ تکیه | | کج قلعه | | تاج بیګ | | حیدرخیل | |
| سالار | | Todah China | توده چینه | ښادي خیل | | Aman Khel -i- Takyah | |
| سرور خیل | | Patan | پتان | سالار ِ سیاه | | سالار تکیه | |
| هفت آسیاب | | Dandoki, | ډنډوکي | چادرهي | | سلطان خیل | |
| Jang Jai | جنګ جاى | Kodi Hasan Beg | | کودي حسن بیګ | | Awez | آویز |
| Sandawar | سنداور | Mehro | مهرو | بابرخیل | | Lowara | لوړه، لواړه؟ |
| یوسف خیل | | Qala Shash | شش قلعه | Gogar | ګوګړ | شیخي | |
| Zankhan | زن خان | Khalyan | خلیان | Khwajatup | خواجه توپ | Mashin Qala | ماشین قلعه |
| Mamal -i- Ulya | مامل علیا | ګلي خیل ِ تـنګي | | Abdul Muhyud din | | عبدل محي الدین | |
| Muli Khel | مولي خیل | سر ِ قول ِ باغک | | برات خیل | | مامل ِ سلفی | |

[60]- SAIJADAN : پورته مو د "ساى" په نوم یوه دره یاده کړله. دلته په انګلیسي متن کې د انګلیسي د نوم مخې ته ئې "سیجدان" لیکلي دي چې زما ژباړونکي په باور باید تاپیي تیروتنه سوې وي او باید "ساى جدان" وي. موږ په کاپیسا کې الا ساى هم لرو- ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | منګلي | Badogak | بدو ګک | Changi-i-Baghak | چنګيِ باغک | | بهادر خیل |
| Hasan Khel -i- Shaniz | | | حسن خیل شنیز | Busak | بوسک | | کاریز |
| | لالاګل خیل | Khar Lowarah | | | خر لوړه | | بابکر خیل |
| | زرک خیل هفت آسیاب | | زرک خیل | | میرخان خیل | | اکاخیل تکیه |
| | قلعۀ ملا شاه محمد | | ګلا خیل | | ملا خیل | | علم خیل |
| | شاه ګل | | لاچي خیل | | بابو خیل | | رمزي خیل |
| Qabchi Khel | | | قاب چي خیل | MushakKhel | | | مُشک خیل |
| Zamuch | زموچ | | جان محمد خیل | | قلعۀ الله داد | | کامران خیل |
| Sisi | سیسي | | کوټ | | تیمور خیل | | برهان خیل |
| | قلعه سعدالدین | | قلعۀ سرخ | | سیاه چوب | Kodiak | کودیک |
| | بلندي | | عرب خیل | | الله یار خیل | Shater | شاطر |
| | سعدالله خیل | Larum | لړم | | پاینده خیل | | حمزه خیل |
| | خواجه غرمبان | Badak Khel | بادک خیل | | اسحق خیل | | شیرخیل |
| | مدوخیل | | تره خیل | | لړمِ سفلی | Khwaja Gharamban | |
| | غازي خیل | | قلعۀ نوِ هفت آسیاب | Utri Takya | اوتري تکیه | Karo Khel | کرو خیل |
| Nasir Khel | | | ناصرخیل/ نصیر خیل؟ | Zangor | زنګور | | حکیم خیل/ حاکم خیل؟ |
| Jarchiyan, | جارچیان | | الله یارخیل ۲ | | موسی خیل ۲ | | محمد عظیم خیل |
| | علم خیل | Chori Khel | چوري خیل | Barak Khel | بارک خیل | | محبت خیل |
| Bandah Khel | باندِه خیل | Latu Khel | لاټو خیل | Ghaibak Khel | غیبک خیل | | رحیم خیل |
| Chawni | چوني | Barikak Khel | | | باریکک خیل | Gadaye Khel | ګدايي خیل |
| | شیرک | | میر یحیی خیل | | نصرت خیل | | شیخ اعظم بابا |
| | ګدايي خیل ۲ | | جان محمد خیل | Landah Khel | لانده خیل | | آب دره |
| | آزاد خیل | | قطب خیل | Shamshi | شمشي | | چشمۀ کاکا |
| | پیرک خیل | Kharyan | خاریان | Buland Qash | بلند قاش | Patak Khel | پتک خیل |
| | دشتِ توپ شیخ آباد | | پتک خیل چهار دهي | | آب درۀ کلان | | آب درۀ خورد |
| | حسن بیګ | | بره کي حسن بیګ | | قلعۀ ګل دین | Shadi Puch | شادي پُچ |
| | قریۀ سید | Takya | تکیه | Hurjan | هُرجان | | دولت خیل |
| Tarwati Khel | | | تروتي خیل | Dasht-i-Am | دشت ِ عام | | شیخ آباد |

**سید آباد:** ۵۹ – ۳۳، ۴۳ – ۶۸ ,,ن,,: لوړوالی: ۶۹۵۰ فیټه. دا د ,,شنیز,, [61] په دري کې د غزني د شمال په شاوخوا ۳۸ مایلۍ کې یو کلی دی. دا کلی په حقیت کې د کوچنیو کلیو یوه ډله ده چې د ,,خواجه رسول د سیدانو,, [62] په وګړو اړه لري. د ,,شیر دهان له کوتل,, [63] سره د سیګنال Singal له لارې ارتباط کیدای سي چې د کلي په لویدیځ کې له یوۀ غرۀ څخه ټینګ سي. په سید آباد کې د میدان او د لوګر د دري سرکونه او له کابله تر غزني پوري سرکونه یوځای کېـږي. د کمپ وهلو لپاره تر ټولو ښـۀ ځای د شنیز د سیند د کیني غاړي په اوږدو کې ده. اړتیاتوکي کیدای سي د شنیز او ,,اونکي,, [64] د درو له بـېلابـېلو کلیو څخه راټول سي چې دواړه دري ډېـري ښې کرل سوي او حاصلخیره دي. د ۱۸۴۱ز کال د نوامبر په میاشت کي کله چې تورن ووډ بُرن له ۱۰۸ تـنو معلولو او ناتوانو سرتـېـرو سره د کابل پر

[61] -Shiniz valley
[62] -Khawaja Rasul Saiyids
[63] -Sher Dahan Kota
[64] -Shiniz and Unkai valleys


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

لور روان وو همدي کلي ته نېږدي د غلزيو د يو ډېر لوی ځواک تر بريد لاندې راغی او زموږ ټوله ډله دلته ووژل سوه.

د ۱۸۸۰ز کال په لړ کې سيد آباد د سر دونالد ستيوارت د دمې نيولو ځای وو چې له کندهاره د کابل پر لور روان وو او هم د سر فريدريک د مارش په لړ کې چې له کابله د کندهار پر لور روان وو سيد آباد کې ئې دمه وکړه. په همدې کال کې سيد آباد کې ځو خورې ورې ودانۍ وې چې چندان اهميت ئې نـهٔ درلود. په دې کال کې د کمپ وهلو لپاره تر ټولو ښـهٔ ځای د شنيز د سيند په مقابل لور يا د سيند په ښې لاس کې وو. د کلي په ختيځ کې درې مايله ليرې يوه لاره يوهٔ کوتل ته ختلې ده چې تدريجي لوړوالی لري، د همدې کوتل له سره د لوګر دره له ورايه په سترګو کېږي او د همدې کوتل له لارې لوګر ته لاره تللې ده. خو دا لاره سخته لاره ده. له همدې ځايه کابل ته دوه متبادلې لارې تللې دي چې ښې لارې دي، يوه لاره ئې د ميدان او ارغندي له لارې او بله ئې د تنګي وردک او د لوګر د درې له لارې لاره ده. (کمپبل، لمسدن، آی. بي.سي)

نور بيا

*** سبز جوی: دا د باميانو په ولايت کې...**

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولې برخې لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ